**د کوچني اختر د را رسېدو په اړه د حزب التحرير- ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د مبارکی پيغام**

د حزب التحرير- ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر له طنجې تر جاکاراتا پورې ټول اسلامي امت ته د اختر د را رسېدو له امله مبارکي وايي. په ځانګړې ډول هغو کسانو ته چې ژوند يې د خير لورې ته دعوت او د اسلامي حاکميت د بيا را ګرځېدو لپاره مبارزې ته وقف کړی دی. د رحمت، مغفرت او د دوزخ له اوره د خلاصون د مياشتې په پای ته رسېدو سره د ارحم الراحمين له درباره غوښتنه کوو چې ستاسې روژه، قيام، صدقات او مبارزات په خپل دربار کې قبول کړي او د خير، برکت، نصرت او بريالیتوب دروازې د اسلامي امت پر مخ پرانيزي.

الحمدالله د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس له امنيتي ګواښونو او د کرونا وايروس د خپرېدو له خطر سره سره د روژې غوره او وړ استقبال وکړ او دا عظيمه فريضه يې ترسره کړه. نو د اختر په راتګ سره خوشاله اوسئ، ځکه چې دا خپله د الله سبحانه و تعالی حکم دی.

پکار ده چې د روژې اصلي پيغام له روژې وروسته هم هېر نه کړو او هغه يوازې له خوړولو او څښلو ډډه کول نه دي، بلکې د ژوند ټولې برخې را نغاړي او په ټولنيزو او فردي چارو کې د الله تعالی احکامو ته غاړه ايښودل دي. په ډيموکراتيک نظم که نه ګډون، له غربي استعمار او اشغال سره مبارزه، د پانګوالی، ديموکراسی او نشنلېزم د مفکورو ردول، له ټولو ارزښتونو سره يې د دولت–ملت نه منل او د غربي بشري حقونو او نړيوالو کنوانسيونو نه منل د روژې له سياسي پيغامونو څخه شمېرل کېږي.

يوه شئ چې د مومنانو واقعي اختر هغه وخت دی چې اسلامی نړۍ د غير اسلامي نظامونو له افکارو او لوېديځ استعمار څخه خلاصه شي او د راشده خلافت په تاسيس سره اسلام په کامل او شامل ډول د ژوند په ټولو برخو کې پلی شي. نو د داسې عظيم سعادت لپاره د حزب التحرير د افکارو او پروګرامونو ملاتړ وکړئ او په دې ستر بدلون کې خپل رول ولوبوئ. هغه بدلون چې په هغو کې اسلام واکمن او مسلمانان خوشالېږي.

**وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ** [الروم: ۴-۵]

او په هغه ورځ به مسلمانان خوشالېږي. (هو! خوشالېږي) د الله تعالی د نصرت له امله. الله تعالی له هر هغه چا سره مرسته کوي چې ويې غواړي او هغه عزيز (پر خپلو دښمنانو باندې برلاسی) او (پر خپلو دوستانو باندې) ډېر مهربانه دی.

**د حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**